# هیڅ مسلمان نشته چې په یو مصیبت اخته شي او هغه څه ووایی چې الله تعالی یې ورته اٍمر کړی یعنې: {إِنَّا لِلهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ} [البقرة: 156]،اللَّهُمَّ أْجُرْنِي فِي مُصِيبَتِي، وَأَخْلِفْ لِي خَيْرًا مِنْهَا) {یقینا چې موږ د الله یو او موږ هغه ته ورګرځېدونکي یو} اې الله! ماته زما د مصیبت بدله راکړه او له هغه څخه غوره راکړه، مګر دا چې الله به له هغه څخه غوره بدله ورکړي

له ام المؤمنین؛ ام سلمه رضی الله عنها څخه روایت دی وایي چې ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اورېدلي چې فرمایل یې: "هیڅ مسلمان نشته چې په یو مصیبت اخته شي او هغه څه ووایي چې الله تعالی یې ورته امر کړی یعنې: {إِنَّا لِلهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ} [البقرة: 156]،اللَّهُمَّ أْجُرْنِي فِي مُصِيبَتِي، وَأَخْلِفْ لِي خَيْرًا مِنْهَا) {یقینا چې موږ د الله یو او موږ هغه ته ورګرځېدونکي یو} اې الله! ماته زما د مصیبت بدله راکړه او له هغه څخه غوره راکړه، مګر دا چې الله به له هغه څخه غوره بدله ورکړي" ام سلمه رضي الله عنها وایي: کله چې ابو سلمه مړ شو، نو ما (له ځان سره) وویل: کوم مسلمان به له ابو سلمه څخه غوره وي؟ هغه لومړی کور و چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ئې هجرت وکړ، (خو بیا هم) ما دا دعا وکړه، نو همغه و چې په بدله کې الله تعالی رسول الله صلی الله علیه وسلم راکړ.

[صحیح دی] [مسلم روایت کړی دی]

ام المؤمنین ام سلمه رضي الله عنها وایي چې هغې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه یو ځل اورېدلي و چې فرمایل یې: هر مسلمان ته چې یو مصیبت ورسېږي او هغه څه ووایي چې الله تعالی یې ورته ویل روا کړي دي: {إِنَّا لِلهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ} [البقرة: 156] (اللهم أجرني) ای الله ماته اجر راکړې، او ماته زما د صبر اجر راکړې، (في مصيبتي) زما په هغه مصیبت کې چې رارسېدلی دی (وأخلف لي) او په بدل کې یې (خيرًا منها) له هغه غوره راکړې، مګر دا چې الله تعالی به په بدل کې له هغه غوره ورکړي. وایي: کله چې ابو سلمه وفات شو نو ما وویل: کوم مسلمان به له ابو سلمه څخه غوره وي؟! هغه خو لومړنی کور و چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یې هجرت وکړ، خو بیا الله راسره مرسته وکړه او ما وویل (یعنې دا دعا مې وکړه) همغه و چې الله تعالی په بدل کې رسول الله صلی الله علیه وسلم راکړ، چې له ابو سلمه څخه غوره دی.

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY

لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC
E-Da'wah Committee